الدرس السابع | ووم درس

النار وعذابها | اُور او عذابونه

الله تعالى فرمائيلي دی : [فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ] {البقرة:٢٤}ترجمه : ځان بچ کړئ د اُور نه هغه چې خشاک د هغې خلق دی ، او کانړی دی ، تیار کړی شویدی د کافرانو دپاره رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وفرمایل : چې ستاسو د دنیا اُور د جهنم د اُور اویایمه حصه ده ، چا تپوس وکړو چې اے د الله رسوله ! د کافرانو دپاره خو د دنیا دا یوه حصه هم کافي وه ، رسول الله ﷺ جواب ورکړو چې د جهنم اُور د دنیا د اُور نه یو کم اوویا حصي زیات دی ، (بخاری ومسلم) د جهنم اُووه (٧) طبقي دی ، هر طبقه د بلے نه ډیره سخته ده ، او هر طبقه کښې به خلق د اعمالو په اعتبارسره وی ، منافقان به د ټولو نه لاندې طبقه د اُور کښې وي ، چې ډیره سخته ده ، د کافرانو عذاب به په جهنم کښې همیشه وی ، وقفه به پکښې نوی کله چې څرمني ئے وسوزی ، الله به ورته څرمني بدلے کړی چې عذاب مزه وڅکی ، الله تعالى فرمائی :[كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا لِيَذُوقُوا العَذَابَ ] {النساء:٥٦} ترجمه : او هر وخت چې سځکوری شی څرمنی د دوی بدلے به کړو دوی له څرمنی نوری دی دپاره چې اوڅکی دوی عذاب ، الله تعالى فرمائی : [وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَى عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا كَذَلِكَ نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ] {فاطر:٣٦} ترجمه: او هغه کسان چې کفر ئے کړی دی ، دوی دپاره اُور د جهنم دی ، فیصله به نه کیږی په دوی باندی چې مړه شی، او نه به شی سپکیدلی د دوی نه عذاب د هغې، دغه شان سزا ورکوو مونږ هر منکر ته ،خلق به په زنځیرونو او طوقونو کښې تړلی شوی وی ، الله تعالى فرمائی : [وَتَرَى المُجْرِمِينَ يَوْمَئِذٍ مُقَرَّنِينَ فِي الأَصْفَادِ، سَرَابِيلُهُمْ مِنْ قَطِرَانٍ وَتَغْشَى وُجُوهَهُمُ النَّارُ] {إبراهيم:٥٠} ترجمه: او ته به وینې مجرمان په دغه ورځ یوځای تړلی شوی په زنځیرونو کښې، قمیصونه د دوی به د رنزړونه وی ، او پټوی به مخونه ددوی لره اُور .دجهنمیانو خوراک په باره کښې الله فرمائی : [إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ طَعَامُ الأَثِيمِ، كَالمُهْلِ يَغْلِي فِي البُطُونِ، كَالمُهْلِ يَغْلِي فِي البُطُونِ، كَغَلْيِ الحَمِيمِ] {الدُّخان:٤٣/٤٦} ترجمه : یقینا ونه د زقوم ، خوراک د ګناهګار دی، پشان د ویلی کړی شوی تانبې، خوټ کیږی به په خیټو کښې پشان د خوټ کیدلو د یشیدلو اوبو .نبی کریم ﷺ د جهنم او د جنت بیان کړی دی چې د قیامت په ورځ به یو جهنمی راوستلی شی چې په دنیا کښې ئے هر قسمه نعمتونو کښې ژوند کوو، په جهنم کښې به یو غوپه ورکړی، بیا به تری تپوس وکړی شی چې اے د آدم ځویه! چرته دِی څه شحالئ او نعمت لیدلے دی؟ هغه به ووائی اے الله ! ستا په ذات می دِی قسم وی ، ما چرته شحالئ نه ده لیدلے ، او یو جنتی به راوستلے شی چې دنیا کښې ئے ډیر تکلیفونه او سختئ تیری کړی وی ، نو جنت کښې به یو چکر ورکړی ، بیا به تری تپوس وکړی شی چې اے د آدم ځویه ! څه تکلیف یا پریشانی دِی لیدلے ده؟ هغه به وائي قسم په الله هیڅ تکلیف او پریشانی مے نده لیدلے (مسلم :٢٨٠٧) د جهنم یوه غوپه به د کافر نه د دنیا ټولے خوشحالئ هیری کړی ، او د جنت یو چکر به د مؤمن نه د دنیا ټول تکلیفونه هیر کړی .